# د والدینو د پریزنټېشن کاپی (ټرانسکرپټ)

**1 سلاید**

د دې پریزنټېشن موخه دا ده چې تاسو د هغې پروسې سره آشنا کړئ چې په پرنس ویلیم کاونټي عامه ښوونځیو (PWCS) کې د ګفتېډ تعلیم خدماتو په موخه د وړ زده کوونکو د پېژندلو لپاره کارول کیږي. د دې پریزنټېشن له لیدو وروسته، که تاسو کومه پوښتنه لرئ یا اضافي معلومات غواړئ، مهرباني وکړئ د خپل ښوونځي د ګفتېډ تعلیم سرچینی ښوونکي سره اړیکه ټینګه کړی.

**2 سلاید**

په PWCS کې، "ګفتېډ زده کوونکي (خداداد وړتیاوی لرونکی زده کوونکي)" د هغو زده کوونکو په توګه تعریف شوي دي چې په یو یا ډیرو برخو کې د خپلو هم عمره زده کوونکو په پرتله د یو برابر تجربې یا چاپیریال لرلو سره په لوړه کچه لاسته راوړني یا غیر معمولي اکاډمیکی وړتیاوی په ډاګه کوي:

عمومي پوهی وړتیا (د وړکتون څخه تر دولسم ټولګي پوری)

ژبه (د وړکتون څخه تر دولسم ټولګي پورې)

ریاضیات (د وړکتون څخه تر دولسم ټولګي پورې)

تاریخ او ټولنیز سائنس (د 6 څخه تر 12 ټولګي پورې)

سائنس (د 6 څخه تر 12 ټولګي پورې)

دغه زده کوونکي د لاسته راوړنو لپاره وړتیا او ظرفیت لري کوم چې دومره عالي دي چې دوی خپلی تعلیمي اړتیاوی پوره کولو لپاره ځانګړي پروګرامونو ته اړتیا لري.

**3 سلايډ**

د PWCS د ګفتېډ تعليمی پروګرام موخه دا ده چې د حساس فکر کولو ، تخليقي فکر ، همکاری ، خبری اترو او مفکوري فکر کولو په برخو کې د زده کوونکو پرمختللي مهارتونو ته وده ورکړي ترڅو زده کوونکي وهڅوي او د دی وړ کړي چې پخپله ځان ته د لاربښوونی کولو زده کړی کوونکي جوړ شي.

**4 سلايډ**

ګفتېډ خدمات څنګه وړاندې کيږي يا تر سره کيږي؟

په ابتدايه ښوونځي کې، د ګفتېډ تعليم سرچينی ښوونکی سره د سرچيني په خونه کې د کار کولو په موخه زده کوونکي خپل ټولګي پريږدي. دا کار د "ويستلو خدماتو" په نامه يادېږي.

د شپږم څخه تر اتم پوری ټولګيو کی، زده کوونکي د تکراری نوبت په بهير کی يا د ويستلو سرچيني په شکل کې د ګفتېډ تعليم خدمات ترلاسه کوي.

په نهم او لسم ټولګيو کې، زده کوونکي د سيمينار خدماتو لپاره يو ځل بيا خپل ټولګي پريږدي. په يوولسم او دولسم ټولګيو کې زده کوونکي د کريډيټ لرونکي کورس انتخاب لري يا ممکن د سرچينی په سيمينارونو کې ګډون کولو ته دوام ورکړي.

د خدمات تر لاسه کولو موده د زده کوونکی د ټولګی يا ګريډ کچې ته په کتو سره توپير لري.

د ګفتېډ تعليم سرچينی ښوونکي د ټولګي ښوونکو سره هم په ګډه کار کوي ترڅو د پيژندل شوي زده کوونکو لپاره د ټولګی په لاربښوونه کی مناسب ملاتړ وکړي.

**5 سلایډ**

زده کوونکي ممکن د ښوونځي مسلک لرونکی، والدینو یا سرپرست، د ټولني غړي، یا د یو ملګري لخوا د ګفتېډ تعلیم ارزوني لپاره راجع شي. زده کوونکي پخپله هم ځانونه راجع کولئ شي. ځیني زده کوونکي ممکن د وړتیا معلوملو آزمویني نمرو یا د نورو معلوماتونو د بیاځلی کتلو پر اساس د ارزوني لپاره راجع شي. د وړکتون څخه تر دولسم ټولګیو پوري زده کوونکي ممکن د ښوونځي کال په بهیر کی هر وخت د ګفتېډ تعلیم ارزوني لپاره راجع شي. د راجع کولو فورمي په هر ښوونځي کي او د PWCS ویب پاڼي، د ګفتېډ تعلیم پروګرام په پاڼه کي موجود دي.

**6 سلایډ**

کله چي یو زده کوونکی د ګفتېډ تعلیم ارزوني پروسي لپاره راجع شي، د زده کوونکی والدینو یا سرپرستانو ته یوه فورمه لیږدول کیږي ترڅو د زده کوونکي د ارزولو لپاره ورڅخه اجازه وغوښتل شي.

له دي مخکي چي کومه آزموینه یا ارزونه پیل شي، دا فورمه باید د مور/پلار یا سرپرست لخوا لاسلیک شي.

والدین یا سرپرستان به د والدینو یا سرپرست راپور هم ترلاسه کړي. مونږ له والدینو څخه غواړو چي دا راپور بشپړ کړي ترڅو د خپل ماشوم د وړتیاوو په اړه اړین معلومات شریک کړي. که تاسو خپل ځوابونه ټایپ کول غوره ګڼئ، د دې فورمی ډیجیټلی نسخه ستاسو د ښوونځي د ګفتېډ تعلیم سرچیني ښوونکي څخه د تر لاسه کولو لپاره شتون لري. دا راپور په انګلیسي، عربي، فارسي/دري، کوریایي، پښتو، هسپانوي، اردو، چینایي او ویتنامی ژبو کی شتون لري. دا راپور ستاسو د ماشوم د ښوونځي له لارې د والدینو د اړیکو افسر یا ژباړونکي سره د مرکي له لارې په شفاهي ډول هم بشپړ کیدی شي.

**7 سلایډ**

د مور/ پلار د راپور لومړنی پاڼه له ستاسو دا غواړي چې هغه درجه یا خانه په نښه کړئ کوم چې په ښه توګه دا تشریح کوي چې ستاسو ماشوم څېني ځانګړتیاوي څو ځله څرګندوي یا په ډاګه کوي. په دغه درجو یا انتخاب کی، "نه دی لیدل شوي، څېني وخت، په مکرر ډول، یا تل" شامل دي. وروسته له هغی چې تاسو یو ځانګړتیا غوره کړی، نو بیا له ستاسو غوښتل کیږي چې د هغی ځانګړتیا د څرنګوالی په اړه بیلګی وړاندي کړئ کوم چې ستاسو ماشوم په ډاګه کوي. که تاسو د "نه دي لیدل شوي،" انتخاب په نښه کړی، هیڅ ډول بیلګی وړاندی کولو ته اړتیا نشته. دا ستاسو په ماشوم باندی په بده توګه انعکاس نه کوي. د ګفټډ (خداداد وړتیاوو) هر یوه ځانګړتیا په ټولو ماشومانو کې نه لیدل کیږي.

لومړنی ځانګړتیا دا ډول ده: "زما ماشوم لیواله دی؛ د پوښتني کولو چلند یا خوي لري؛ په څېر سره کتونکی دی." په دې اړه فکر وکړئ چې ستاسو ماشوم دا ځانګړتیا څو ځله څرګندوي، هغه که په ښوونځي کې وي یا په کور کې. هغه خانه په نښه کړئ چې د پلي کیدو وړ وي او بیا هڅه وکړئ چی لیکلي بیلګی وړاندې کړئ. که امکان ولري مشخص یا دقیق اوسئ. ستاسو بیلګی کیدای شي چې د هغه څیزونو څخه وي چې تاسو یې په کور کې ګورئ - اړینه نه دی چې باید د ټولګي د چاپیریال څخه وي.

د بیلګی په توګه، که چیرته د لومړي ټولګي ماشوم والدین دا په ډاګه کړي چې د دوی ماشوم په مکرر ډول دا خاصیتونه څرګندوي، دوی ممکن لاندې ذکر شوی بیلګی وړاندې کړي: د ساختماني سایټونو یا ځایونو، ساختماني وسایطو، او دا چی ودانی څنګه جوړیږي په اړه پوښتنی کوي؛ اصلي ساختماني سایټونه او وسایط د کتابونو او تلویزیوني برنامو سره ښلوي؛ د ساختماني وسایطو د ډولونو ترمنځ توپیرونو ته پام کوي.

د مور او پلار په راپور کې یوه بله ځانګړتیا دا ډول وایي، "زما ماشوم یو روښانه تصور لري." د درجی یا خانه په نښه کولو وروسته کوم چې پری پلي کیږي، بیا هم د دقیق بیلګیو په اړه د فکر کولو کوښښ وکړئ کوم چې تاسو په کور کې ګورئ. تصور له ډیرو لارو په ډاګه کیدی شي. د بېلګې په توګه، د څلورم ټولګي ماشوم ښایي په ژورنال (مجله) کې ډرامې او کیسې ولیکي، پراخې یا تفصیلی نقشی یا تصورات جوړ کړي؛ د مفصل "نړۍ" جوړولو لپاره د Minecraft کوډونه وکاروئ؛ یا د سندرو لپاره نوي لیرکس (د سندرو طرز) یا میوزیک جوړ کړئ.

د دی ځانګړتیا لپاره، "زما ماشوم د طبعیت پوهی یو نازک یا زړه راښکونکی احساس لري،" د منځني ښوونځي د زده کوونکي والدین ممکن دا ډول ولیکي چې د دوی ماشوم د پیغور یا ملنډی وهلو په اړه پوهیږي کله یی چې نور کاروي؛ د ماشومانو او مشرانو دواړو سره ټوکی ټکاری کولی شي؛ ټوکي جوړوي کوم چې د کلمو لوبې یا ټکان پکي شامل وي؛ یا په حالاتو کی طعنه یا پیغور موندلی شي.

د وروستی بېلګې په توګه، یو خبر دا ډول وایي، "زما ماشوم بشري ستونزو ته حساس دی؛ د انصاف او عدالت په تړاو اندیښنه لري." د وړکتون ماشوم لپاره، والدین ممکن دا ډول ولیکي چې د دوی ماشوم غوښتل چې د وروستي طوفان له امله اغیزمن شوي خلکو سره د مرستی کولو په موخه پیسې یا اضافي خواړه واستوي؛ ماشوم خپه کیږي کله چې هغه د سپیانو په اړه اعلانونه وګوري څوک چې سپانسر ته اړتیا لري؛ یا کله چې په ګاونډ کې لوبې کوي، د هغوی ماشوم اندیښمن وي چې هر یو کس به نوبت ولري یا چې هر یو کس به په عدلانه شکل لوبه وکړی او که څنګه.

**8 سلاید**

د مور او پلار د راپور په شا طرف کې ستاسو لپاره نوری عمومي پوښتني شتون لري چې د خپل ماشوم لپاره یی په پام کی ونیسی.

ستاسو ماشوم د ښوونځی څخه وروسته خپل وخت څه ډول تیروي؟ هغه د کوم څیز سره علاقه لري؟

د دې پوښتني لپاره، هغه څیزونه په پام کې ونیسئ لکه لا زیات نصابي فعالیتونه، شوق یا ذوق، ستاسو ماشوم به د ښوونځي، ټولګی، یا لوبو څخه وروسته په اضافه وخت کی کوم کار تر سره کول غوره کړي

دا په ډاګه کړی چې تاسو د زده کړی په برخه کی د خپل ماشوم تر ټولو ستره پیاوړتیا او تر ټولو ستره ننګونه کوم څیز ګنی؟

پیاوړتیا او کمزورتیا کیدای شي یو ځانګړې موضوع یا چلند یا مهارت وي کوم چې د زده کړي پوری تړاو لري.

هغه (افسانوي یا غیر افسانوي) کتابونو بیلګی لیسټ کړئ چې ستاسو ماشوم لوستی دي کوم چې د هغه/هغی کورنی دنده نه وه.

د دې کتابونو مشخص عنوانونه لیست کړئ. هڅه وکړئ اړیکه رامنځ ته کړئ چې ولې کتابونه غوره شوي وو (د بیلګې په توګه د هغه څه په پرتله چې دوی په ښوونځي کې، په فلم یا تلویزیون خپرونی، یا د ژوند تجربی څخه زده کړي). آیا ستاسو ماشوم یو لیواله لوستونکی یا زړه نا زړه لوستونکی دی؟

ستاسو ماشوم له ښوونځي څخه بهر د ریاضیاتو مفکورې او نظرونه څه ډول کارولي دي؟

د محاسبي کولو لکه اضافه کولو او منفی کولو څخه لوړ، د نورو ځیزونو په اړه فکر وکړئ. د هغو لوبو په اړه فکر وکړئ چې ستاسو ماشوم یې کوي، پخلی کول، د کورنی حالات، د لوبې وخت او داسې نور. برخورد، اندازه کولو، سرغړونو، او منطق پېژندلو ته پام وکړئ.

بله پوښتنه له تاسو دا ډول پوښتی چې د هر هغه ځانګړي حالت چې ستاسو ماشوم اغیزمن کوي، تشریح کړئ چې تاسو غواړئ کمیټه یې په پام کې ونیسئ (د بېلګې په توګه، طبي، یا د روغتیا اړوند ستونزې، پرله پسې حرکتونه، د ژبې خنډونه، ځانګړي اړتیاوې).

د منځني او عالي ښوونځیو د والدینو په راپورونو کې د تاریخ او ټولنیزو علومو او سائنس سره د زده کوونکو د علاقې یا دلچسپی په اړه اضافي پوښتني شاملې دي.

کله چې تاسو د والدینو راپور بشپړ کړ، مهرباني وکړئ راپور او د اجازې لاسلیک شوي فورمه د خپل ماشوم په ښوونځي کې د ګفتېډ تعلیمي سرچینی ښوونکي ته بیرته وسپارئ.

**9 سلاید**

کله چې اجازه ترلاسه شي، د شواهدو راټولول پیل کیږي. د ویرجینیا د مقرراتو له مخې، د ښوونځي څانګه د معلوماتو راټولولو او ارزولو لپاره او د پېژندني په اړه پریکړه کولو لپاره 90 کاری ورځې لري.

**10 سلاید**

PWCS د پېژندني یا شناخت په پروسه کې څو معیاریزه تګلاره کاروي. دا په دی معنی ده چې هیڅ ډول واحده ډاټا لکه د آزموینې نمرې، د بېلګې په توګه، نشي کولی په اتوماتیک ډول یو زده کوونکی وپیژني او هیڅ ډول واحده ډاټا نشي کولی چې د یو زده کوونکی د ګفتېډ تعلیمي برنامې لپاره د پېژندل کیدو څخه مخنیوی وکړي.

په PWCS کې راټول شوي شواهدو کی د Kaufmann Brief Intelligence آزموینی (د KBIT په نوم پېژندل کیږي)، د Naglieri Nonverbal Ability آزموینی (د NNAT په نوم پېژندل کیږي)، او/یا د Cognitive Abilities آزموینی (د CogAT په نوم پېژندل کیږي) څخه د ورتیا معلومولو آزموینی نمرې شامل دي. د زده کوونکي اکاډمیکی ریکارډ، چې ډاټا پکې شامله ده لکه ګریډ، کچې، او د SOL نمرې، هم شاملې دي. د ټولګي ښوونکي او د سرچینی ښوونکي څوک چې د زده کوونکي سره کار کوي، لیکلي راپورونه

سپارى. د زده کوونکي د والدينو يا سرپرستانو لخوا معلومات، د زده کوونکي د کار نموني، په خپل سر پيل شوي پروژو توضيحات، او د زده کوونکي پوښتنليکونه هم راجمع کيږي.

**11 سلایډ**

کله چې د شواهدو راټولول بشپړ شي، د پيژندني او ځاى پرځاى کولو کميټه ستاسو د ماشوم په ښوونځي کې غونډه تر سره کوي.

په دې کميټه کې يو اداره کوونکى، د ښوونځي سلاکار، د ټولګي ښوونکي، او د ګفټډ سرچينى ښوونکي شامل وي. په دې کميټه کې د ESOL او د ځانګړي زده کړې سرچينې ښوونکي هم شامل وي. دغه کميټه دا شواهد بياځلى ګوري او ارزونه يې تر سره کوي او د خدمات تر لاسه کولو لپاره د ګفټډ تعليم د وړتيا او ځاى پرځاى کولو په اړه پريکړې تر سره کوي. بيا، دغه پريکړې د ځانګې په کچه د کميټي لخوا بياځلى کتل کيږي او تصديق کيږي. وروسته له هغى چې پريکړه تاييد شي، د پريکړې په اړه به په ليکلى بڼه خبرتيا د ميل له لارى کورونو ته وليږل شي.

مهرباني وکړئ په ياد ولرئ چې د پيژندني پروسې وروسته د دوسيې هر يوه برخه د والدينو لخوا بياځلى کتل کيدى شي. که تاسو د دې کار تر سره کولو سره علاقه لرئ، د خپل ماشوم په ښوونځي کې د ګفټډ تعليم سرچينى ښوونکي سره اړيکه ټينګه کړى. که والدين د کميټې له پريکړې سره موافق نه وي، هغوي کولى شي چې د 10 کارى ورځو دننه د ايستناف غوښتنه وکړي.

**12 سلایډ**

دلته د ګفټډ تعليم پيژندني پروسې په اړه ګڼ شمير احتمالي پايلي شتون لري.

ستاسو ماشوم په عمومي فکري پوهى وړتياو برخه کى يا په يو يا زياتو ځانګړي اکاډميکى مهارتونو کې د ګفټډ تعليم خدماتو تر لاسه کولو لپاره وړ مونډل کيدى شي. د پيژندني ساحه يا برخه به په هغه ليک کې مشخص شي چې تاسو به يې ترلاسه کوئ. د پيژندني په برخو کې عمومي فکري پوهى وړتيا، ژبه (وړکتون څخه تر 12)، رياضى (وړکتون څخه تر 12)، ټولنيزه علوم(6 څخه تر 12 ټولګى)، يا ساينس (6 څخه تر 12 ټولګى) شامل دي. د پيژندني ساحه ممکن د مضمونونو ساحو ترکيب هم وي. بيا به ستاسو ماشوم ته د پياوړتيا په موخه د زده کړې اختيارونه وړاندې شي. تاسو به د خدماتو فورمى لپاره اجازه ترلاسه کړئ، او کله چې هغه لاسليک شي او ښوونځي ته بيرته راستانه شي، ګفټډ خدمات کولى شي پيل شي.

بله ممکنه پایله دا ده چي ستاسو د ماشوم قضیه څارني ته اړتیا لري. دا په دې معنی ده چي مخکي له دې چي پریکړه تر سره شي، کمیټه لا زیات اضافي معلومات غواړي. د ګفټډ سرچینی ښوونکی به هغه معلومات راټول کړي چي کمیټه یي غوښتنه کوي، بیا به قضیه د پریکړې لپاره بیرته کمیټي ته واستول شي.

وروستی پایله دا کیدی شی چی ستاسو ماشوم ممکن د ګفټډ خدماتو لپاره وړ ونه موندل شي. دا په دې معنی ده چي شواهد اوس مهال ګفټډ خدمات تر لاسه کولو ته اړتیا نه په ډاګه کوي. والدین کولی شي چی په لیکلي بڼه خبرتیا ترلاسه کولو څخه وروسته په 10 ورځو کی دننه د دې پریکړې په اړه د استیناف غوښتنه وکړي. د دې استیناف پیل کولو په موخه د ګفټډ تعلیم سرچینی ښوونکي سره اړیکه ونیسئ.

د وړکتون څخه تر دویم ټولګي پوری زده کوونکو لپاره، دا په ډاګه کیدی شي چي که څه هم اوس مهال ستاسو ماشوم د ګفټډ تعلیم لپاره وړ نه دی، هغه یو څه اړینه وړتیا څرګندوي او د ابتدایي استعداد پراختیا پروګرام (ETD) لپاره یی سپارښتنه کیږي. دا د ګفټډ تعلیم خدماتو په څیر نه دی. د ټولګي ښوونکي او د ګفټډ تعلیم سرچینی ښوونکي د زده کوونکو پیاوړتیا ته د ودی ورکولو په موخه ګټه وری او د پراختیا فعالیتونو رامنځ ته کولو کي مرسته کوي. هغوی د زده کوونکي د فعالیت یا کار پورټ فولیو جوړوي. دا پورټ فولیو دا مستند کولو لپاره کارول کیږي چي د زده کوونکي فکر د وخت په تیریدو سره څرنګ فعالیت کوي او وده مومي. بیا، دغه پورټ فولیو او نور معلومات د دریم ټولګي د پای ته رسیدو څخه وړاندي د ارزوني لپاره د پیژندني او ځای پرځای کولو کمیټي ته وړاندې کیږي.

**13 سلایډ**

دی سره د ګفټډ تعلیم پیژندنی په اړه د والدینو معلوماتو پریزنټیشن پای ته رسیږي. که تاسو د پروسي په اړه پوښتني لرئ، یا که تاسو غواړئ خپل ماشوم د ارزوني لپاره راجع کړئ، مهرباني وکړئ د خپل ماشوم په ښوونځي کي د ګفټډ تعلیم سرچینی ښوونکي سره اړیکه ټینګه کړئ. د هر ګفټډ تعلیم سرچیني ښوونکي نوم د PWCS په ویب پانه PWCS.edu کی د Academics تر لاندی د ګفټډ تعلیم په پانه کي او بیا ګفټډ پروګرام تر لاندي شتون لري. د ګفټډ تعلیم پروګرام او د پیژندني کرنلارو په اړه اضافي معلوماتو سره سره د راجع کولو فورمي په دې ویب پانه کي شتون لري.

ستاسو د وخت څخه مننه.